BBC PASHTO.com

10:03 گرینویچ 03, 2008 فبروري

غزل اکمل
له کابله

د پوهنتون محصلینو ته د کار زمینه برابرېږي

په کابل کي د امریکا پرمختیایي اداره یا یو اس اېډ د عملي کار د دوري په نوم یو پروګرام پیل کړی چي له مخي به یي په سلوکي پنځوس محصلینو ته د کار زمینه برابر ه شوي.

د عملي دوري په نوم پروګرام د امریکي د پرمختیایي اداري د کوچنیو او منځنیو تصدیو د پرمختګ د پروژي یا اسمېډ لخوا پیل شوي چي هره دوره یي شپږ میاشتي دوام مومي.

د اسمېډ د پروژي یو چارواکی محب اله جبارخیل وایي دغهٔ پروګرام ته د کابل پوهنتون د اقتصاد ، ساینس او کرنې د پوهنځیو محصلین له ازموینې وروسته جذبیږي.

دده په وینا اوس مهال څه د پاسه ٦٠ تنه محصلین له دغه پروګرام نه فارغ شوي چي اداري، مالي، محاسبي او بازار موندنوپه څانګوکي ورته زده کړې ورکړل شوي دی.

ښاغلی جبارخیل وویل: "ددی پروګرام موخه د محصلینو د کاري ظرفیتونو لوړول دي چي، دوی به په عملي توګه په دولتي او نادولتي موسسو کي کار وکړي او وروسته به په دغو موسسو کي کار ومومي."

د چارواکو په وینا دغه پروګرام په ننګرهار او هرات ولایتونو کي هم پیل شوی او په پام کي ده چي دغه لړی نورو ولایتونو ته هم وغزیږي.

چارواکي زیاتوي ددغه پروګرام له مخي یي په سلو کي ٥٠ محصلینو ته په دولتي او نادولتي موسسو کي د کار زمینه برابره کړي ده.

د عملي دوري د پروګرام یو محصل امام الدین صابر وایي: " په اداري ، محاسبي او نورو څانګو کي یي ډېر څه زده کړي او دا به ورسره د کار په موندلو کي مرسته وکړي."

د ځینو خلکو په وینا که چیرې نادولتي تولني دداسي ورته پروګرامونو د پیلولو هڅه وکړي نو دا به له ډېرو محصلینو سره مرسته وکړي چي کاري ظرفیتونه یي لوړ او په دولتي او نادولتي موسسو کي په اسانی سره کار ومومي.